د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه

علمي معاونیت

# ستراتیژیک پلان

(۱۴۰۳-۱۴۰۷هـ.ش)

# Strategic Plan

(2024-2028)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# د مطالبو لړ لیک

**عنوان** **پاڼې ګڼه**

د رئیس پیغام ........ 1
مفاهیم ........ 3
د ستراتیژیکي برنامې چارچوب ........ 6
سریزه ........ 7
د مؤسسې تشکیلاتي چارت: ........ 10
لرلید ........ 11
رسالت ........ 11
ارزښتونه ........ 11
ستراتیژیک اهداف ........ 11
د لوړو زده کړو وزارت موخې او مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې راتلونکې برنامې ........ 12
د چاپېریالي عواملو پرتله(داخلي او خارجي)د IE تګلاره ........ 14
د ستراتیژیو ټاکنه ........ 15
د لنډ مهالو موخو ټاکل ........ 18
پنځه کلن عملیاتي پلانونه ........ 19
د ستراتیژیو پلي کول ........ 52
د ستراتیژیو ارزونه ........ 53

## د رئیس پیغام

### بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمد لله رب العالمین والصلاة و السلام علی سیدالمرسلین و علی آله و اصحابه اجمعین.**

د علم د ارزښت په تړاو که ووایو چې د اسلام مبارک دین د دنیا او اخرت د نېکمرغه ژوند لپاره د علم او زده کړې دین دی، نو ناحق خبره نه ده. د اسلام په مبارک دین کې د علم او پوهې اهمیت دومره دی چې لومړی پیام او کلمه چې جبرائیل امین (ع) حضرت محمد مصطفی (ص) ته د وحیې په توګه وویله د اقراء یعني ولوله کلمه وه، ددې ترڅنګ د علم فضیلت او اهمیت د الله تعالی په زیاتو قراني آیتونو کې ثابت دی. همدارنګه په انساني ټولنو کې فرهنګ د انسانانود بیلوالي او په عین حال کې د بشریت د اشتراک وجه ده. قومي، نژادي، جغرافیایي، سیاسي او ژبني توپیرونه د ټولنو او ملتونو د پیژندلو عوامل دي. ټولنې او ملتونه د انساني او فرهنګي مشترکاتو په وسیله یو له بل سره تعامل کوي، علم د انسانانو ترمنځ مشترکه ژبه او د ښه والي معیار دی. علم د جهان په کچه مدینه فاضله ده چې جغرافیایي او سیاسي مرزونه او همدارنګه طبقاتي، نژادي، مذهبي او ژبني اختلافات یې له منځه وړي دي. د علم حاکمیت یو نړیوال حاکمیت او د آزادي، عدالت، پرمختګ او توسعې تحقق دي او پوهنتونونه د علم د پاللو او ودې ورکولو مرکزونه او کورونه دي. مونږ باور او عقیده لرو چې علم د ټولو تاریخي اثارو او بشریت میراث دی نو پوهنتونونه هم د نړۍ په ټولو وګړو پوري متعلق دي.

سربېره پردې چې د علم حاکمیت د ټولو انبیاوو (ع) مشترکه دنده او د ټول بشریت میراث دي، د دې حقیقت په نظر کې نیولو سره چې یوازې علم کولای شي په نني ژوند کې یو مطمئین فرصت برابر کړي او دوامداره وده او پرمختګ رامنځته کړي، مسلم دلوړو زده کړو مؤسسه د (معیار او نوښت هنداري) تر شعار لاندې د منل شوو معیارونو او ټولنې د اړتیاوو په پام کې نیولو سره تحصیلي خدمات وړاندې کوي. مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه له زده کړیالانو سره د معیاري تدریس، مهارت لوړونې او مسؤلیت منلو په برخه کې مرسته کوي تر څو دوی د یوه بریالي مسلکي ژوند په برخه کې اغیزمن وګرځي.

څرنګه چې مسلکي او لوړې زدکړې د نني عصر غوښتنه او د بشري ټولنو لویه اړتیا ده، په همدې اساس مسلم د لوړو زدکړو مؤسسه هڅه کوي خپل محصلین د یوه بریالي او مسلکي ژوند په اډانه کې وروزي. مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه په معالجوي طب، ستوماتولوژي، حقوقو او سیاسي علومو او اقتصاد برخو کې د لېسانس په کچه تحصیلي خدمتونه وړاندې کوي. په یاده مؤسسه کې د زده کړو هوډ د فرصتونو نړۍ ته د داخلیدو هوډ دی، چې وړتیاوو او توانایو ته په یقیني توګه وده ورکوي. زموږ استادان چې د اړوند برخو متخصصین دي خپلو علمي برخو کې محصلینو ته لارښووني کوي. استادان په رسمي عنوان او علمیت سربېره تجربه لرونکي دي چې له خپلو زده کړیالانو سره خپلې تجربې شریکوي ترڅو اړوند برخو کې له اوسنیو او راتلونکو فرصتونو سره اشنا شي.

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې چاپېریال او معیاری زده کړې د چټک پرمختګ لپاره مرسته کولای شي؛ په طبي، اقتصادي، حقوقو او سیاسي علومو برخو کې اندونو او نظریاتو ته وده ورکوي. هغه څه چې زموږ پروګرام ځانګړی کوي د یو جذاب او علمي چاپیریال شتون دی. زده کړیالان د تکنالوژي سره اشنا کوي، پنځوونکي او تعاملي چاپېریال کې د کارکولو تلوسه ورکوي. موږ تل د ښه کیفیت لپاره هڅه کوو، چې په پایله کې به یې زموږ فارغ

زده کړیالان د ارزښمتنو نظریاتو لرونکي وي. دوی به په دې اند وي چې زده کړې زیاته هڅه او ستونزې ګالل دي، چې د تحصیلي دورې په پای کې به دوی دخپل مصرف شوي وخت او هڅو څخه خوښ وي.

خوښ یم چې مسلم دلوړو زده کړو مؤسسې ستراتیژیک پلان کمیټې درنو غړو څخه مننه وکړم چې یاد پلان په تدوین او ترتیب کې یې زیار ایستلی، مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې  لپاره یې واضح او روښانه  مسیر ټاکلی مسلم لوړو زده کړو مؤسسه د ستراتیژیک پلان جوړونې کمېټې مسلکي غړو هر یو په لاندې جدول کې معرفي شوي دي.

**په ستراتیژیک پلان کمېټه کې د غړو پېژندنه**

| ګڼه | نوم | په کمېټه کې موقف | په مؤسسه کې دنده |
|---|---|---|---|
| ۱ | وحیدالله باور | مشر | د علمي چارو مرستیال |
| ۲ | سمیع الله امرخیل | غړی | د محصلانو چارو مرستیال |
| ۳ | حفیظ الله حکیمي | غړی | د مالي او اداري چارو مرستیال |
| ۴ | ډاکتر نور الله زمریانی | غړی | د طب پوهنځي رئیس |
| ۵ | ډاکتر خان محمد | غړی | د ستوماتولوژي پوهنځي رئیس |
| ۶ | حفیظ الله جلالزی | غړی | د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي رئیس |
| ۷ | قیام صدیقي | غړی | د اقتصاد پوهنځي رئیس |
| ۸ | نصیراحمد مایار | غړی | د تضمین کیفیت امر |
| ۹ | محمدحامد حاذق | منشي | د استادانو چارو امر |

له دوی ټولو څخه نړۍ مننه کوم ، همدا راز مسلم  د لوړو زده  کړو مؤسسې ټولو درنو استادانو او اداري کارمندانو څخه مننه کوم چې یاد پلان په ترتیب او معلوماتو راټولولو کې یې هر راز هلي ځلي کړې دي.

**په درنښت**

**ډاکتر خیرالدین نثار**

**مسلم دلوړو زده  کړو مؤسسې رئیس**

**مفاهیم**

په دې برخه کې ځیني هغه اصطلاحات چې په دې ستراتېژیک پلان کې راغلي دي په لنډ ډول سره تعریفوو :

**برنامه:** برنامه په مجموع کې له هغو کړنو څخه عبارت ده چې په شعوري توگه سره ترتیب شوې وي ترڅو هدف یا اهدافو ته پرې ورسېږو. یا هم په بل عبارت برنامه، له هغې نقشې څخه عبارت ده چې اهدافو ته د رسېدلو لپاره ضروري سرچینې، مهالوېش، دندې او نوري کړنې مشخصوي. د برنامې په جوړونه کې باید لاندې سوالونو ته جواب وویل شي: څه شی، د چا له لوري؟ د کومې موخې لپاره؟ په کوم ځای کې؟ په کوم وخت کې؟ د کومو منابعو په اساس؟ په کومه کچه او په څه ډول سره اجراء شي؟

**ستراتېژي:** له هغې جامع طرحې څخه عبارت ده چې د یوې تحصیلي ادارې موخې، پالیسیانې، عملیاتي پلانونه او برنامې په یو چوکاټ کې یو له بل سره ترتیب او تنظیم کوي .

**ستراتېژیکه برنامه:** ستراتیژیکه برنامه د تحصیلي نهاد کلي اهدافو او څانگو یا ډیپارټمنټونو اهدافو د پلان مراحلو خلاصې څخه عبارت دي چې په جامع ډول تدوین کیږي.

**ستراتېژیکه برنامه جوړونه :** د مدیریتي پریکړو او کړنو د علم او هنر له ټولگي څخه عبارت دي چې محیطي عواملو ته په کتلو سره اهدافو ته د رسیدلو په پار تدوین، اجراء او ارزیابي کېږي.

**تدوین:** د ستراتېژیکي برنامې یوه مرحله ده چې په دې برخه کې د لیدلوري ټاکنه، ماموریت، ارزښتونه، موخې، محیطي عواملو(داخلي او بهرني) تحلیل، د ستراتېژیک حالت تعین، ممکنه ستراتېژیو تعین، او د ستراتېژیو اولویت بندي کېږي .

**اجراء:** د ستراتېژیکي برنامې جوړوني دوهمه مرحله د ستراتېژۍ اجراء ده چې په کې د ستراتېژیو اولویت بندي، د لنډ مهاله موخه ټاکنه، د کلنی کړنو برنامه، د بودجې ترتیب، د تحصیلي نهاد د جوړښت طرح یا نوي کول، د اجرایي پالیسیو ترتیب، د رهبري د سبک ټاکنه او د منابعو تخصیص په کې شوی وي .

**ارزونه:** درېیمه مرحله، د ستراتېژۍ ارزونه ده چې یو میکانیزم ته اړتیا پیدا کوي تر څو د تحصیلي نهاد کړنې د لوړو زده کړو وزارت له پالیسیو او معیارونو سره مقایسه کړي .

**لیدلوری:** هغه ذهني انځور یا ارمان ده چې یوه مؤسسه یا ارگان یې په راتلونکي کې غواړي .

**ماموریت:** د یوې ادارې یا هم مؤسسې د جوړښت علت او داخلي فلسفه ده، چې د ادارې وروستي اهداف ښکاره کوي .

**موخه:** له هغې نقطې څخه عبارت ده، چې ټولې کړنې یې د لاسته راوړلو په خاطر ترسره کېږي، موخې باید لاسته راتلونکي او د زماني محدودې لرونکي وي، د ترلاسه کېدو طریقه یې باید معلومه وي، نه باید ډېري وټاکل شي تر څو په لاسته راوړلو کې یې پاته راشو .

**ارزښتونه:** د یوې ادارې له اعتقادي او اساسي اصولو څخه عبارت دي، چې د هغو په واسطه اداره خپل ماموریت او ارمانونه ترتیب کوي .

**د داخلي عواملو د تحلیل ماتریکس Internal Factors Evaluation Matrix(EFEM)** : داخلي عوامل هغه شاخصونه دي، چې د یوې ادارې په داخل پورې اړوند وي، د بهرني عاملو برعکس تر کنترول لاندې دي، چې په دوو عمده برخو وېشل کېږي چې یو یې د قوت ټکي دي او بل یې دضعف ټکي دي او ددې ماتریکس په اساس تحلیل او تجزیه کېږي .

**د خارجي عواملو د تحلیل ماتریکس External Factors Evaluation Matrix(EFEM)**: خارجي عوامل د یوې ادارې هغه برخه ده چې په بهرني محیط پورې تړاو لري چې له فرصتونو او تهدیدونو څخه عبارت دي او د داخلي عواملو برعکس دا د کنترول او مدیریت لاندې نه وي او ددې ماتریکس په اساس تحلیل او تجزیه کېږي .

**داخلي او خارجي عواملو ماتریکس (IEM) External and Internal Matrix** : دا ماتریکس چې د ګډ ماتریکس په نوم هم یادېږي، په دغه ماتریکس کې داخلي عوامل له خارجي عواملو سره مقایسه کېږي .

**سواټSWOT** : د سواټ مخفف د قوت نقاط(Strengths) ، د ضعف نقاط(Weaknesses) ، فرصتونه(Opportunities)، چلنجونه (Threats) څخه عبارت دي .

ددغه روش په واسطه کولای شو داخلي عوامل او خارجي چاپېریال تحلیل کړو، ددې تصمیم ونیول شي چې قوتونه له فرصتونو سره همغږي کړو او ستراتېژي تدوین کړو .

**د قوت نقطه:** قوتونه هغه مثبت عوامل او ورتیاوې دي چې تحصیلي نهاد ته ددې زمینه مساعدوي ترڅو له خپلو رقیبانو څخه په قوي مالي منابعو، په ټولنه کې د یاد سازمان په وړاندې مثبت ذهنیت او نورو مواردو کې بهتر او مخکښ واوسي .

**د ضعف نقطه:** په منابعو، امکاناتو او توانایيو کې یو نوع محدودیت څخه عبارت ده چې د تحصیلي نهاد د اغېزناکو اجراآتو مانع محسوسېږي .

**فرصت:** له هغو بهرني شرایطو او عواملو څخه عبارت ده چې تحصیلي سازمان د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره مؤثره استفاده کوي.

**تهدید:** له هغو بهرني عواملو څخه عبارت دي چې د تحصیلي سازمان په کړنو باندې منفي اغېز کوي او د اهدافو په تحقق کې ستونزې راولاړوي .

**تهاجمي ستراتېژیاني** :(SO)ددې ستراتېژۍ په وسیله تحصیلي سازمان د خپلو داخلي د قوت نقطو څخه په استفادې له بهرني فرصتونو څخه ګټه پورته کړي .

**محافظه کارانه ستراتېژیاني** :(WO) ددې ستراتېژیانو په وسیله تحصیلي سازمان د موجوده فرصتونو په وسیله کولای شي چې خپلې د ضعف نقطې له منځه یوسي او هم کولای شي چې د ضعف نقطې د قوت په نقاطو تبدیلي کړي .

**رقابتي ستراتېژیاني** :(ST) ددې ستراتېژۍ په استفادې تحصیلي نهادونه د خپلو قوت نقطو څخه په استفادې په بهرني محیط کې له شته تهدیدونو څخه راپیدا شویو خطرونو کمولو او یا هم په له منځه وړلو کې ترې استفاده کوي .

**دفاعي ستراتېژیانې :(WT)**تحصیلي نهادونه ددې ستراتېژۍ په اساس خپل ځان ته دفاعي حالت غوره کوي او موخه هم ترې د ضعف نقاط کمول او د تهدیدونو څخه ځان ساتل دي .

**د کمي ستراتېژیکي برنامې جوړونې ماتریکس(QSPM)**: یوه تحلیلي وسیله ده چې د مختلفو ستراتېژیو ارزولو او هغوی ته د لومړیتوب ورکولو لپاره کارول کېږي او همدارنگه ددې متاتریکس په اساس تحصیلي نهادونه کولای شي چې غوره او اغېزمني ستراتېژۍ وټاکي .

# د ستراتیژیکې برنامې چارچوب



## سریزه

مسلم دلوړو زده کړو مؤسسه چې د (معیار او نوښت هېنداري) تر لوړ او لوی شعار لاندې د منل شویو معیارونو او ټولنې د اړتیاوو په پام کې نیولو سره تحصیلي خدمات وړاندي کوي، بنأ د لوړو او معیاري تحصیلي خدماتو وړاندې کولو لپاره یوه منظم او جامع پلان ته اړتیا لري. مسلم دلوړ زده کړو مؤسسې ستراتیژیک پلان چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د تطبیق وړ دي د پراختیایي پلانونو یوه ټولګه ده، چې په علمي، مدیریتي، زیربنایي، تکنالوژیکي، پراختیایي او څېړنیزو عمده محورونو باندې راڅرخي.

د علمي او تحصیلي نهادونو له لارې د خدماتو وړاندې کول په ټولنه کې د لوړو موخو ټاکل دي چې لوړ اهداف واضح او جامع پلان ته اړتیا لري په ټوله کې د پلان اهمیت د سازمان کلي مسیر ټاکلو، د ستراتیژیکو منابعو پېژندنه، موخو ته د رسیدلو لپاره د منابعو څخه سمه استفاده او همدارنګه داچې موخو ته د رسیدو لپاره کومې دندې؟ دچا په وسیله؟ او څه ډول ترسره کولو کې دي. مسلم دلوړو زده کړو موسسې خپل لومړی پنځه کلن ستراتیژیک پلان تر ډیري کچې په بریالي توګه تطبیق کړ ی دی چې، د تهاجمي او رقابتي ستراتېژیانو په برخه کې، مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو لپاره د خارجي بورسونو ستراتېژۍ بریالی وه، خو د نوو مهارتونو تطبیق لا نورو تدابیرو ته اړتیا لري. همدارنګه مؤسسې د خپلو قوتونو په کارولو سره د تهدیدونو کمزوري کولو کې مؤثر ګامونه پورته کړي دي. د محافظه کارانه او دفاعي ستراتیژیانو په برخه کې استادانو ته نړیوالو څېړنیزو مرکزونو ته د لاسرسي زمینه نه ده برابره شوې. خو د علمي څېړنو آمریت په اغېزمنه توګه فعالیت کوي او مؤسسې د داخلي ضعفونو په حل کې پرمختګ کړی دی.

اوس اړتیا ده د لازیاتي ودې او غوره خدماتو وړاندې کولو لپاره دوهم ستراتیژیک پلان ترتیب او تطبیق کړي، مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې دوهم ستراتیژیک پلان په پوره تخصصي ډول د شته امکاناتو، منل شویو تحصیلي معیارونو، محیط د تحلیل، د لوړو زده کړو محترم وزارت تحصیلي پالیسي، سیمه ایزو شرایطو ته په پام او د پوره تطبیق وړتیا درلودلو سره ترتیب شوی دی.

دا چې ستراتیژیک پلان د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د یوې اداري رسالتي نقشه ترسیموي، په همدې اساس مسلم دلوړو زده کړو موسسې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره د ټولو علمي، اداري او ټولنیزو کړنو د تنظیم لپاره دا پلان ترتیب کړی ترڅو خپل ستراتیژیک اهداف په منظمه توګه تعقیب او یاد تعهدات په ځانګړو وختونو او سرچینو سره لاسته راوړي. مسلم دلوړو زده کړو مؤسسه د یوه علمي بنسټ په حیث خپلو هېوادوالو ته په معالجوي طب، ستوماتولوژي حقوقو او سیاسي علومو او اقتصاد برخو کې وړ او متعهد کادرونه وړاندې کوي، چې یاد تعهدونه د راتلونکو پنځو کلونو لپاره ددې پلان په اډانه کې ځای په ځای شوي دي.

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې بنسټ په ۱۳۹۴ لمریز کال کې د لوړو زده کړو وزارت، د خصوصي لوړو زده کړو مؤسسو او پوهنتونو محترم ریاست په مستقیمه لارښوونه د جوزا د میاشتې په (۳۱) مه نېټه د پرلپسې (۱۱۲) او د

ثبت (۴۸۵) يمې ګڼې په اساس د يو علمي، تحصيلي نهاد په توګه د اسلامي ثقافت پلازمېنه غزني کې کېښودل شو. له تاسيس سره سم يې په څلور پوهنځيو ( معالجوي طب، ستوماتولوژي، حقوق او سياسي علوم، او اقتصاد) پوهنځيو کې فعاليت پيل کړل. مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه اوسمهال (۹۲)تنه د علمي کادر او(۳۳) تنه اداري کارکوونکي لري. مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه په خپل تشکيل کې څلور پوهنځي (معالجوي طب، ستوماتولوژي، حقوق او سياسي علوم او اقتصاد) لري همدارنګه په حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کې دوه څانګې(حقوق-سياسي علوم او نړيوالي اړيکې) او په اقتصاد پوهنځي کې( منجمنټ او تشبثاتو اداره- مالي او بانکي ) څانګې لري سر بېره پر دې مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه خپل تشکيل کې د کيفيت لوړاوي امريت، د څېړنو امريت، د مسلکي پراختيا امريت، د استادانو چارو امريت، د نشراتو امريت چې د شملې راډيو يې ترچتر لاندې خپرونې کوي، د کارمونډنې مرکز، د مشوره ورکولو مرکز او ورته نور امريتونه او مديريتونه د چارو پرمخوړلو په پار خپل تشکيل کې لري. مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې بودجه د عادي او انکشافي لګښتونو د برخو درلودنکې ده، چې عادي برخه يې معمولاً معاشات او انکشافي برخه يې د انکشافي پروژو او اړوند مواردو کې په مصرف رسيږي. د مسلم لوړو زده کړو مؤسسې بوديجې عوايد معمولاً د محصلينو له فيسونو جوړ شوي دي. مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه بېلابېل سهولتونه لري لکه منظم او پر نويو وسايل سمبال ټولګي، ارام درسي چاپېريال، کتابتون، لابراتوارونه، مجهز کادري روغتون، د کارمونډنې مرکز، د مشورو مرکز، کمپيوترلب، راډيو، کافيټريا، د غونډو تالار، د انګليسي ژبې مرکز، د لومړنيو روغتيايي مرستو کلينيک او داسې نورو.

د مسلم لوړو زده کړو مؤسسه د څېړنو په برخه کې په منظمه توګه فعاليت کوي، چې تر دې دمه يې څو مهمې څېړنې په داخلي متعبرو مجلو او نړيوالو ژورنالونو کې نشر شوي دي او اوس هم څېړنيزې هڅې دوام لري.لومړۍ ازمايشي علمي مجله چاپ شوې ده او د رسمي جواز اخيستلو وروسته به د وزارت له لوري تائيد شوې علمي مجله ولرو او همدارنګه د علمي کادر غړو په بيلابيلو موضوعاتو کې په ملي ژبو درسي کتابونه تأليف کړي دي. دغه څېړنې د علمي پرمختګ او اکاډميک کيفيت لوړولو لپاره ارزښتناکې دي، خو په ملي او نړيواله کچه معيارونو ته د رسيدو لپاره لا هم د څېړنيزو منابعو پراخولو او همکارۍ رامنځته کولو ته اړتيا ده. تحقيق او علمي اثارو تاليف د دې مؤسسې له اساسي موخو څخه دي چې په دې پلان کې ورته ځانګړې پاملرنه شوې ده. مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې د پخواني ستراتيژيک پلان اړوند ستراتيژيانو د تطبيق او کاميابۍ عوامل په لاندې ډول سره د يادولو وړ دي:

1. د وړ، متعهد او مسلکي علمي کادر غړو او اداري کارمندانو شتون.
2. ستراتيژيک موقعيت درلودل.
3. د صلاحيتونو او مسؤليتونو عادلانه ويش او د ټولو اکاډميکو اصولو بشپړ رعايت.
4. د پراخه ساحې او معياري فزيکي امکاناتو شتون.
5. د لوړو زده کړو وزارت او دولتي پوهنتون سره ښه همغږي.
6. د خصوصي لوړو زده کړو مؤسساتو سره د همکاريو دوه اړخيز هوکړه ليکونه او سالم رقابت درلودل.

سربیره پر دې د یادولو وړ ده دا چې مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې د پخواني ستراتیژیک پلان څېني ستراتیژیانې د لاندي عواملو له کبله ناکامې شوې دي:

1. د محیطي عواملو نا سم تحلیل.
2. د عایداتي سرچینو محدودیت او ضعیف مدیریت.
3. په ستراتیژیکو برنامو کې فردي تصمیم نیونه.
4. د ستراتیژیو مبهم والي.
5. د موسسې له وضعیت سره د ستراتیژیو نه همغږي.
6. د ستراتیژیو په تطبیق کې د همکارو اداراتو نه همکاري.
7. د ستراتیژیو د ارزونې لپاره د واضح تګلارې نه شتون.

په نوي ستراتیژیک پلان کې به هڅه وشي ترڅو یو منل شوی ستراتیژیک پلان ترتیب او په راتلونکو کلونو کې ترینه ګټه واخیستل شي.

په درنښت

## د مؤسسې تشکیلاتي چارت:




پورته تشکیلاتي جوړښت د اداري شورا د (۱۴۰۳/۰۱/۲۹) نیټې ناستې او (۱/۴) ګڼې پروتوکول او علمي شورا د (۱۴۰۳/۰۲/۳۱) نیټې ناستې (۲/۳) پروتوکول کې تائید دي.

## لرلید

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه غواړي چې د علمي څېړنو، معاصرو علومو او علمي کادرونو په استفادې، اسلامي ارزښتونو او د نړیوالو معیارونو په پام کې نیولو سره په ملي او سیمه ایزه کچه یو معتبر تحصیلي بنسټ و اوسي.

## رسالت

مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه د علمي، څېړنو، معیاري تدریس او عصري تکنالوژي سره سم د علمي کادرونو په روزلو سره په عالي کیفیت سمبال تحصیلي خدمات وړاندي کوي.

## ارزښتونه

1) د اسلام د مقدس دین او د هېواد په قوانینو پابندي، او د ملي ارزښتونو درناوی.
2) د ټولنې د منل شوي عرف رعایتول.
3) اسلامي او ملي ارزښتونو ته ژمنتیا.
4) په کارونو کې شفافیت او جدیت.
5) غوره کیفیت ته ژمنتیا .
6) کړنو حساب ورکول او فساد مخنیوی.
7) شایسته سالاري او مسئولیت پذیري.
8) سالم رقابت او مثبت تعامل.

## ستراتیژیک اهداف

ستراتیژیک پلان د یوې ادارې لپاره د هدف په لاسته راوړلو کې مهم رول لري. د ستراتیژیک پلان اهمیت په پلانونو کې داسې دی، لکه د یو هیواد لپاره په قوانینو کې د اساسي قانون شتون. په دې بناء له دې پلان څخه مو هدف دادی تر څو د لوړو زده کړو بهیر لا ښه پرمختګ وکړي. ددې پلان په پلي کولو سره به مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه وتوانیږي، هغه هدف ته چې د لوړو زده کړو وزارت د ځان لپاره ځانګړی کړی ، ورسیږي. همدارنګه ددې پلان په عملي کولو سره به مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه وتوانیږي، چې په بېلابېلو برخو کې داسې په کار او عصري ټکنالوژي پوه کادر ټولنې ته وړاندې کړي، چې د هیواد شته ستونزو ته یوه علمي حل لاره ولټوي ، د سیالانو سیال یې کړي او هغه لرلید او رسالت چې د ځان لپاره مو ځانګړی کړی، په ټاکلي وخت او په ښه توګه مو لاسته راوړی وي.

په لنډ ډول ویلی شو، ددې لپاره چې پورتنۍ موخو ته ورسیږو، ددې پلان ستراتیژیک اهداف د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیک اهدافو په رڼا کې په لاندې ډول په ګوته کولی شو.

1. د مؤسسې د زیربنا پراختیا.
2. بشپړ اکاډمیک اعتبار اخیستل.

3. د غوره اداري، رهبري او فساد مخنیوي په موخه د نویو او اغیزمنو سیستمونه ایجاد.
4. د عوایدو لوړول .
5. د علمي کادر غړو او اداري کارمندانو د جذب زیاتوالی او ظرفیت لوړول.
6. الکترونیکي زده کړو بهبود او پراختیا.
7. د علمي برنامو پراختیا او ایجاد.
8. د علم تولید، نوښت او څېړنو تقویه او پراختیا.
9. د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخیستل.
10. د وخت او اړتیا سره سم د نصاب بیا کتنه او پراختیا.
11. له نهادونو سره د اړیکو ایجاد او پراختیا.
12. لوړو زده کړو ته عادلانه لاسرسی او محصلانو ورتیاوو پراختیا لپاره غوره خدماتو وړاندې کول.

## د لوړو زده کړو وزارت موخې او مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې راتلونکي برنامې

د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو وزارت د ستراتیژیکو موخو د تعقیب او ښه تطبیق په موخه په لاندې ډول سره د لوړو زده کړو وزارت ستراتیژیکې موخې او دهغه په رڼا کې مسلم د لوړو زده کړو مؤسسې راتلونکي برنامې توضیح کیږی:

1. د څېړنو پراختیا، د علم تولید او نوښت
   - د درسي کتابونو چاپ او نشر
   - د ملي ژورنال جواز اخیستل
   - په ملي ژورنالونو کې تحقیقي مقالې نشرول
   - په نړیوالو ژورنالونو کې تحقیقي مقالې نشرول
   - د استادانو تحقیقي ظرفیت لوړونه
2. اداره، رهبري، د سیستم جوړول او د فساد بشپړ له منځه وړل
   - د کړنو حساب ورکول
   - د مؤسسې د داخلي طرزالعملونو بیاکتنه
   - دوامداره نظارت
   - د لوړو زده کړو وزارت د سپارښتنو تطبیق
   - د (UMIS) سیستم پراخیتا
3. د نصابونو بیاکتنه، پراختیا او ترتیب
   - د نصاب نیاز سنجي ترسره کول

- دوره يي مرور ترسره کول

4. د لوړو زده کړو د نهادونو نظارت، ارزونه او د کيفيت ښه والی
   - د تضمين کيفيت مراحل ترلاسه کول
   - د اعتبار دهي سند ځخه ساتنه
5. د الکترونيکي زده کړو پراختيا او ښه والی
   - د معلوماتو بانک جوړول
   - د معلوماتو بانک ته د وډيوګانو پورته کول
   - د (LMS) سيستم پراختيا
6. د زيربناوو پراختيا، ښه والی او تجهيز
   - د شخصي ځمکې اخيستل
   - د ځمکې حقوقي طي مراحل او ماسټر پلان ترتيب
   - د تدريسي او اداري ودانيو ابادول
   - د ودانيو سهولتونه (پارکېنګ، شنه ساحه، کافيټريا او لوبو ميدانونه) جوړول
7. د علمي کادر غړو او کارمندانو د ظرفيت لوړونه
   - د تشکيل پراختيا
   - د ماسټرۍ برنامې ته د استادانو او کارمندانو استول
   - دوکتورا برنامې ته د استادانو استول
   - اداري او کادري غړو ته د ظرفيت لوړونې لنډ مهاله برنامې دايرول
   - د علمي کادر غړو تقرر
8. د تقنيني او تخنيکي اسنادو بياکتنه او ترتيب
   - د مؤسسې د داخلي طرزالعملونو بياکتنه
9. له اکاډميکو او غير اکاډميکو نهادونو سره د اړيکو پراختيا او ښه والی
   - د داخلي پوهنتونونو سره تفاهم ليکونه لاسليک کول
   - د بهرنيو پوهنتونونو سره تفاهم ليکونه لاسليک کول
   - د امارتي او شخصي نهادونو سره د تفاهم ليکونو لاسليک کول
10. لوړو زده کړو ته عادلانه لاسرسي او محصلانو وړتياوو د ودې او پراختيا لپاره غوره خدماتو وړاندې کول
   - بې بضاعته محصلينو ته د بورسيو ورکړه
   - د شملې راډيو ځخه زده کړو ته د هڅونې برنامې دايرول
   - د محصلينو د ظرفيت لوړونې لپاره برنامې دايرول

**د چاپیریالي عواملو پرتله(داخلي او خارجي)د IE تګلاره**




پورتني شکل ته په کتو سره ویلی شو لکه څنګه چې موقعیت په V خانه کې قرار لري نو باید د ساتني او ثبات ستراتیژي څخه ګټه واخیستل شي.

د ستراتیژیک حالت تاکنه




لکه څنګه، چې د سوات تحلیل کې مو د داخلي او خارجي عواملو د ارزونې نمرې ترلاسه کړې او یادې نمرې د دې ښودونکې دي، چې باید تهاجمي ستراتیژیانې پکار واچول شي.

**د ستراتیژیو ټاکنه**

- **زیربنا**

1. د لوړو زده کړو وزارت د معیارونو سره سم د اداري او تدریسي ودانۍ ابادول

- **مالي او اداري**

2. د عواید زیاتوالی
3. د کادري او اداري تشکیل پراختیا
4. د لوړو زده کړو د اصولو سره سم د علمي کادر تقرر
5. د کورنیو او نړیوالو پوهنتونونو سره توامیتونه رامنځته کول

- **لوړو زده کړو ته لاسرسی**

6. د محصلانو د کمیت ډېرول

- **اداره او رهبري**

7. شفافیت او سالم رقابت رامنځته کول

- **علمي او تحقیقي**

8. د ټولنې غوښتنو سره سم د پوهنځیو درسي نصاب همغږی کول.
9. بشپړ ملي اعتبار ترلاسه کول او د هېواد په غوره پوهنتونونو کې راتلل.
10. د علمي او اداري کادر غړو تحصیلي کچه او ظرفیت لوړول.
11. نوې تکنالوژۍ سره ځان عیارول او د الکترونیکي زده کړو ترویج کول.
12. د څېړنو تقویې په پار د ملي او نړیوال ژورنال ایجاد.

## ستراتیژیک اولویت ټاکل:

| ګڼه | ستراتیژیک اولویت | ستراتیژي | برنامه |
|---|---|---|---|
| 1 | زیربنا | • د لوړو زده کړو وزارت د معیارونو سره سم د اداري او تدریسي ودانۍ ابادول | • د ځمکې اخیستل<br>• د ودانۍ ابادولو حقوقي طی مراحل او ماسټر پلان ترتیب کول<br>• د اداري او تدریسي ودانۍ ساختماني چارې بشپړول |
| 2 | مالي او اداري | • د عوایدو زیاتوالی<br>• د کادري او اداري تشکیل پراختیا<br>• د لوړو زده کړو وزارت د اصولو سره سم د علمي کادر تقرر<br>• د کورنیو او نړیوالو پوهنتونونو سره تړامیتونه رامنځته کول | • د محصلینو کمیت ډېرول<br>• د تحقیقاتي پروژو ترسره کول<br>• بېلابېلو سازمانونو ته زده کړه ییزې پروژې دایرول<br>• نشراتو ته پراختیا ورکول<br>○ د انساني سرچینو برنامه ریزي<br>▪ د ټولو دیپارټمنتونو لپاره د دایمي علمي کادر تقرر<br>• د ځانګړو کمیټې له لارې د کورنیو او بهرنیو پوهنتونو سره تړامیتونه او هوکړه لیکونه رامنځته کول |
| 3 | لوړو زده کړو ته لاسرسی | • د محصلانو کمیت ډېرول | • د محصلینو جذب په پار د بورسیو ورکړه<br>• د بېلابېلو اداراتو سره تفاهم لیکونه رامنځته کول<br>• ټولنې ته عامه پوهاوی ورکول |
| 4 | اداره او رهبري | • شفافیت او سالم رقابت رامنځته کول | • د خصوصي لوړو زده کړو نهادونو سره تفاهم لیکونه رامنځ ته کول<br>• د حساب ورکونې اصل تطبیق |

| | | | |
|---|---|---|---|
| • د نصاب نیاز سنجی<br>• د علمي برنامو دوره يي مرور<br>• په پوهنتون کې د کیفیت لوړاوي پروسې تقویه کول<br>• د علمي او اداري کادر غړي ماسترۍ او دوکتورا برنامو ته استول<br>• د علمي او اداري کادر غړي د ظرفیت لوړولو په پار علمي برنامې دایرول<br>• د UMIS توسعه<br>• د زده کړه یزو ویډیو ګانو بانک جوړول<br>• د ملي ژورنال جواز ترلاسه کول<br>• نړیوال ژورنال جواز ترلاسه کول<br>• علمي تحقیقات نشرول | • د ټولنې غوښتنو سره د پوهنځیو درسي نصاب همغږی کول<br>• بشپړ ملي اعتبار ترلاسه کول او د هېواد په غوره پوهنتونونو کې راتلل<br>• د علمي او اداري کادر غړو تحصلي کچه او ظرفیت لوړول<br>• نوې تکنالوژۍ سره ځان عیارول او د الکترونیکي زده کړو ترویج کول<br>• د څېړنو تقویې په موخه د ملي او نړیوال ژورنال ایجاد | علمي او تحقیقي | 5 |

## د لنډ مهالو موخو ټاکل

1. د مؤسسې زیربنا او فزیکي امکاناتو پراختیا.
2. د څېړنیزو او زده کړېزو پروژو اخیستنه او تطبیق.
3. د راډیویي نشراتو پوښښ پراختیا.
4. علمي څېړنو او درسي کتابونو تالیف او نشر.
5. د تشکیل پراختیا.
6. د ګډو همکاریو په پار د تفاهم لیکونو رامنځته کول.
7. لوړو زده کړو ته د لاسرسي زمینه برابرول.
8. د ټولنې په پرمختګ کې ونډه اخیستل.
9. دټولنې غوښتنو سره د نصاب عیارول.
10. علمي برنامو دوره يي مرور .
11. بشپړ اکاډمیک اعتبار اخیستل.
12. د کادري او اداري کارمندانو ظرفیت لوړول.
13. د الکترونیکي زده کړو تقویه.
14. د ملي او نړیوال څېړنیزو ژورنالو جواز اخیستل.
15. حساب ورکول.

دافغانستان اسلامي امارت — امارت اسلامی افغانستان

دلوړو زده کړو وزارت — وزارت تحصیلات عالی

## مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه

## مسلم د لوړو زده کړومؤسسې د ۱۴۰۳ لمریز کال عملیاتي پلان

| شمېره | اصلي هدف | عمده کړنې | شاخص | په کال کې د هدف اندازه او فیصدي | د اړتیا وړ سرچینې | د اجرا مسؤل | همکاره اداري | د فعالیت د ترسره کېدو د پیل نېټه | د فعالیت د ترسره کېدو د ختم نېټه | د سپارلو نېټه | د هدف اندازه / د پلان شوې فعالیت فیصدي په ربعه کې | | | | د اړتیا وړ بودجه | | د بودیجې د ضرورت دلیل او د لګښتونو شرحه | متوقعه پایلې | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | | اوله ربعه | دویمه ربعه | دریمه ربعه | څلورمه ربعه | عادی (افغانی) | پرمختیایي (افغانی) | | | |
| 1 | د مؤسسې زیربنا پراختیا | د ځمکې اخیستل | د اخیستل کیدونکې ځمکې د اندازه | ۵۰۰ متر مربع | بودجه | ریاست مقام | مالي او اداري | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۳/۲۳ | ۱۴۰۳/۳/۲۸ | %100 | | | | | 6,000,000.0 ؋ | د ځمکې د اخیستلو قیمت | د مؤسسې د شخصي ودانۍ آبادولو لپاره به ځمکه واخیستل شي. | |
| 2 | د عوایدو لوړول | د محصلینو کمیت ډېرول | د محصلینو کمیت ډېرولو د پرمختګ فیصدي | %6 | بودجه | ریاست مقام | درې ګونې معاونیتونه+پوهنځی | ۱۴۰۳/۴/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۵ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | | %50 | | %50 | 100,000.0 ؋ | | د بازار موندنې اړوند لګښتونه | د محصلینو کمیت به د فعلي محصلینو په تناسب ٦ سلنه ډېر شي چې د هغه په مرسته به د پوهنتون مالي برخه پیاوړې شي. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3 | د عوایدو لوړول | د راډیویي نشراتو پراختیا | د راډیویي نشراتو د پرمختګ فیصدي | %5 | بودجه+ متخصصي انساني سرچینې | ریاست مقام | علمي معاونیت + مالي او اداري معاونیت | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | 150,000.0 ؋ | | د رادیویي نشراتو پراختیا په موخه لګښتونه | راډیو يې نشراتو پوښښ پراختیا سره به د مؤسسې د مالي برخه تقویه شي. | |
| 4 | د علم تولید، نوښت او څېړنو تقویه او پراختیا | د دوه عنوان درسي کتابونو چاپ او نشر | د نشر کیدونکو کتابونو د پرمختګ فیصدي | 100% | بودجه+ متخصصي انساني | ریاست مقام | علمي معاونیت | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | | 50,000.0 ؋ | د کتاب د نشر او چاپ لګښت | د کار بازار غوښتنو ته په کتو سره به درسي کتابونه خپاره او محصلینو لپاره به معیاري درسي مواد چمتو شوي وي. | |
| 5 | د علمي کادر غړو او اداري کارمندانو د جذب زیاتوالی او ظرفیت لوړول | اداري تشکیل پراختیا | د پراخ کیدونکي تشکیل د پرمختګ فیصدي | %2 | بودجه+متخصصي | ریاست مقام | مالي او اداري معاونیت | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %100 | | | | 300,000.0؋ | | د نویو استخدام شویو کارمندانو معاشات | د اداري تشکیل په پراختیا سره به په چارو کې ښه والی رامنځته شي. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 6 | د علمي کادر غړو او اداري کارمندانو د جذب زیاتوالی او ظرفیت لوړول | د کادري غړو تقرر | د گمارل کیدونکو کادري غړو شمېر | 24 تنه | بودجه+متخصصې انساني سرچینې+تفاهم لیکونه | ریاست مقام | علمي معاونیت | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۳۰/۶/۱۴۰۳ | ۳۱/۶/۱۴۰۳ | 50% | 50% | | | 552,000.0 ؋ | | د نویو استخدام شویو کادري غړو معاشات | دایمي علمي کادر غړي به تقرر وومومي او په تدریسي او اداري چارو کې به ښه والی راشي. | |
| 7 | له نهادونو سره د اړیکو ایجاد او پراختیا | د داخلي پوهنتونو سره تفاهم لیکونه لاسلیک کول | د لاسلیک کېدونکو تفاهم لیکونو شمېر | 4 | بودجه+متخصصې انساني | ریاست مقام | دري گوني معاونیتونه | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | 25% | 25% | 25% | 25% | 20,000.0 ؋ | | د تفاهم لیک د تشریفاتو لگښت | د یادو تفاهم لیکونو په لاسلیک کولو سره به د گډو همکاریو زمینه برابره شي. | |
| 8 | له نهادونو سره د اړیکو ایجاد او پراختیا | د بهرنیو پوهنتونو سره تفاهم لیک رامنځته کول | د لاسلیک کېدونکو تفاهم لیکونو شمېر | 1 | بودجه+متخصصې انساني | ریاست مقام | دري گوني معاونیتونه | ۱۴۰۳/۷/۱ | ۱۴۰۳/۹/۲۴ | ۱۴۰۳/۹/۲۹ | | | 100% | | 100,000.0 ؋ | | د تفاهم لیک د سفر او تشریفاتو لگښت | د یاد تفاهم لیک په لاسلیک کولو سره به د گډو همکاریو زمینه برابره شي. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 9 | له نهادونو سره د اړيکو ايجاد او پراختيا | اداراتو سره تفاهم ليکونه رامنځته کول | د لاسليک کېدونکو تفاهم ليکونو شمېر | 5 | بودجه+متخصصې انساني | رياست مقام | دري ګوني معاونيتونه | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %20 | %20 | %20 | %40 | 25,000.0 | | د تفاهم ليک د اشتهاراتو او تشريفاتو لګښت | د ياد تفاهم ليک په لاسليک کولو سره به د ګډو همکاريو او محصلينو لپاره د عملي کار زمينه برابره شي. | |
| 10 | لوړو زده کړو ته عادلانه لاسرسی او محصلانو ورتياوو پراختيا لپاره غوره خدماتو وړاندي کول | د بورسيو ورکړه | د ورکولو کيدونکو بورسيو شمېر | 50 | بودجه | رياست مقام | دري ګوني معاونيتونه+ځلورګوني | ۱۴۰۳/۴/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۵ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | | %50 | | %50 | 786,000.0 | | د بورسيو ورکړې اړوند لګښتونه | د بورسيو له لارې به د ټولنې بې وزله وګړي وکولای شي لوړو زده کړو ته ادامه ورکړي. | |
| 11 | لوړو زده کړو ته عادلانه لاسرسی او محصلانو ورتياوو پراختيا لپاره غوره خدماتو وړاندي کول | د شملې راډيو څخه زده کړو ته د هڅونې برنامې دايرول | د دائريدونکو برنامو شمېر | 6 | بودجه+متخصصې انساني سرچينې | رياست مقام | علمي معاونيت | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %33.33 | %33.33 | %16.67 | %16.67 | 30,000.0 | | د شملې راډيو څخه زده کړو ته د هڅونې برنامو لګښت | د يادو برنامو په دايرولو سره به د ټولنې ځوان قشر لوړو زده کړو ته وهڅول شي . | |
| 12 | د غوره اداري، رهبري او فساد مخنيوي په موخه د نويو او اغيزمنو سيستمونه ايجاد | د کړنو حساب ورکونه | د حساب ورکونې برنامو شمېر | 8 | انساني سرچينې | رياست مقام | دري ګوني معاونيتونه+ | ۱۵/۱۲/۱۴۰۳ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | | | | %100 | 16,000.0 | | د کړنو حساب ورکولو لګښت | هر واحد به د کال په پای کې د خپلو کړنو حساب ورکړي او شفافيت ته به زمينه برابره شي. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 13 | د غوره اداري، رهبري او فساد مخنيوي په موخه د نويو او اغيزمنو سيستمونه ايجاد | د پوهنتون د داخلي طرزالعملونو بيا کتنه | د بيا کتل کېدونکو طرزالعملونو شمېر | 8 | انساني سرچينې | رياست مقام | دري ګوني معاونيتونه | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | 16,000.0 -۹۰ | | د پوهنتون د داخلي طرزالعملونو بيا کتنې لګښت | د طرزالعملونو په اصلاح سره به په چارو کې لا ښه والي او شفافيت رامنځته شي. | |
| 14 | د غوره اداري، رهبري او فساد مخنيوي په موخه د نويو او اغيزمنو سيستمونه ايجاد | دوامداره نظارت | د نظارت کېدونکو مياشتو شمېر | 12 | انساني سرچينې | رياست مقام | اړوند اداري واحدونه | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | | | | د چارو پر وخت او منظم ترسره کېدو نه به ډاډ ترلاسه شوی وي. | |
| 15 | د غوره اداري، رهبري او فساد مخنيوي په موخه د نويو او اغيزمنو سيستمونه ايجاد | د لوړو زده کړو وزارت سپارښتنو تطبيق | د سپارښتنو د تطبيق د پرمختګ فيصدي | 100% | بودجه + متخصصين | رياست مقام | اړوند اداري واحدونه | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | | | | د لوړو زده کړو وزارت د اړوند رياستونو سپارښتنې او لارښوونې به تطبيق شوې وي. | |
| 16 | د وخت او اړتيا سره سم د نصاب بيا کتنه او پراختيا | د نصاب نياز سنجي ترسره کول | د نصاب د ترسره کيدونکو نيازسنجيو شمېر | 6 | بودجه + متخصصين | رياست مقام | علمي معاونيت + څلورګوني | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %33.33 | %33.33 | %16.67 | %16.67 | | 100,000.0 -۹۰ | د نياز سنجي اړوند لګښتونه | د نياز سنجي ترسره کولو سره به نصاب د کار بازار سره همغږی کړل شي . | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 17 | د وخت او اړتیا سره سم د نصاب بیا کتنه او پراختیا | دوره یي مرور ترسره کول | د دروه يي مرور د پرمختګ فیصدي | 100% | بودجه+ متخصصي انساني سرچينې | رياست مقام | علمي معاونیت+ اقتصاد پوهنځی | ۱۴۰۳/۷/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۵ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | | | %50 | %50 | 20,000.0 ؋ | | د مرور دوره یی اړوند لګښتونه | د لوړو زده کړو د اصولو سره سم به منجمنت او تشبثاتو اداري څانګې برنامه دوره يي مرور شوې وي او د ااا اصول به پرې تطبیق شي. | |
| 18 | بشپړ اکادمیک اعتبار اخیستل | د تضمین کیفیت لوموړی مرحله پاس کول | د تضمین کیفیت د مرحلې ترلاسه کولو د پرمختګ فیصدي | 100% | بودجه+ متخصصي انساني سرچينې | رياست مقام | دري ګونې معاونیتونه | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | 50,000.0 ؋ | | د تضمین کیفیت مرحلې پاس کولو اړوند لګښتونه | د تضمین کیفیت لومړۍ مرحلې په ترلاسه کولو کولو سره به پوهنتون د ملي اعتبار په اخیستلو کې لومړی ګام پورته کړی وي. | |
| 19 | د علمي کادر غړو او اداري کارمندانو د جذب زیاتوالی او ظرفیت لوړول | استادان ماستری برنامې ته استول | د استول کېدونکو استادانو شمېر | 1 | بودجه | رياست مقام | علمي معاونیت | ۱۴۰۳/۴/۲ | ۱۴۰۳/۶/۲۸ | ۱۴۰۳/۶/۲۹ | | %100 | | | | 120,000.0؋ | د ماستری برنامې او ظرفیت لوړونې لګښت | د استادان تحصیلي سویه به لوړه شي. | |
| 20 | د علمي کادر غړو او اداري کارمندانو د جذب زیاتوالی او ظرفیت لوړول | اداري کارمندان ماستری برنامې ته استول | د استول کیدونکو کارمندانو شمېر | 1 | بودجه | رياست مقام | اداري او مالي معاونیت | ۱۴۰۳/۴/۲ | ۱۴۰۳/۶/۲۸ | ۱۴۰۳/۶/۲۹ | | %100 | | | | 120,000.0؋ | د ماستری برنامې او ظرفیت لوړونې لګښت | د اداري کارمندانو تحصیلي سویه به لوړه شوې وي | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 21 | د علمي کادر غړو او اداري کارمندانو د جذب زیاتوالی او ظرفیت لوړول | اداري او کادري غړو ته لنډ مهاله د ظرفیت لوړونې برنامې دایرول | د دائریدونکو برنامو شمېر | 10 | بودجه+تمویلران | ریاست مقام | دري ګوني معاونیتونه | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %30 | %20 | %20 | %30 | | 200,000.0 -۹۰ | د ظرفیت لوړونې برنامو لګښت | د اداري او کادري غړو ظرفیت به لوړ شوی وي او له دې سره به په چارو کې لا ښه والی راشي. | |
| 22 | لوړو زده کړو ته عادلانه لاسرسی او محصلانو وړتیاوو پراختیا لپاره غوره خدماتو وړاندي کول | د محصلینو ظرفیت لوړول | د ظرفیت لوړونې د برنامو شمېر | 4 | بودجه+تمویلران | ریاست مقام | محصلانو چارو معاونیت+ څلورګونې | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۸/۲۹ | ۱۴۰۳/۸/۳۰ | %25 | %50 | %25 | | 150,000.0 -۹۰ | | د محصلینو ظرفیت لوړولو او علمي سفرونو لګښت | محصلین به وکولاي شي لازم او اړین مهارتونه تر لاسه کړي | |
| 23 | د غوره اداري، رهبري او فساد مخنیوي په موخه د نویو او اغیزمنو سیستمونه ایجاد | UIMS سیستم ته پراختیا ورکول | سیستم ته د پراختیا ورکولو د پرمختګ فیصدي | %2 | بودجه | ریاست مقام | دري ګوني معاونیتونه | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | | 150,000.0 -۹۰ | د UIMS سیستم د پراختیا لګښت | د دیټابس سیستم په پراختیا سره به په چارو کې لاښه والي راشي. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 24 | الکترونیکي زده کړو بهبود او پراختیا | د معلوماتو بانک جوړول او ویډیو ګانې ورته اپلوډ کول | د معلوماتو بانک جوړولو او ویډیو ګانو اپلوډ کولو د پرمختګ فیصدي | 100% | بودجه+متخصصې انسانې سرچینې | ریاست مقام | علمي معاونیت + پوهنځی | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | 50,000.0 ۹۰- | | د معلوماتو بانک جوړول او ویډیو ګانو اپلوډ کولو لګښت | د معلوماتو بانک د ایجاد لپاره به اپلیکیشن رامنځته شي استادان او محصلین به ترینه ګټه واخلي. |
| 25 | د علم تولید، نوښت او څېړنو تقویه او پراختیا | د ملي ژورنال جواز اخیستل | د ملي ژورنال جواز اخیستلو د پرمختګ فیصدي | 100% | بودجه+متخصصې | ریاست مقام | علمي معاونیت | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | | 20,000.0 ۹۰- | د ملي ژورنال جواز اخیستلو لګښت | د ملي ژورنال جواز په اخیستلو سره به استادان خپل تحقیقات نشر کړلای شي. |
| 26 | د علم تولید، نوښت او څېړنو تقویه او پراختیا | په ملي ژورنالونو کې تحقیقي مقالې نشرول | د نشر کېدونکو مقالو شمېر | 8 | بودجه+متخصصې انسانې | ریاست مقام | علمي معاونیت | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | | 240,000.0 ۹۰- | په ملي ژورنالونو کې تحقیقي مقالې نشرولو لګښت | د مقالو په نشرولو سره به مؤسسې خپل تحقیقي ماموریت ترسره کړی وي |
| 27 | د علم تولید، نوښت او څېړنو تقویه او پراختیا | په نړیوالو ژرونالونو کې تحقیقي مقالې نشرول | د نشر کېدونکو مقالو د پرمختګ فیصدي | 100% | بودجه+متخصصې انسانې | ریاست مقام | علمي معاونیت | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | | 100,000.0 ۹۰- | په نړیوالو ژورنالونو کې تحقیقي مقالې نشرولو لګښت | د مقالو په نشرولو سره به مؤسسې خپل تحقیقي ماموریت ترسره کړی وي |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 28 | د ټولنې پرمختګ ګې ونډه اخیستل | د مناسبتي او فرهنګي ورځو نمانځل | نمانځل کیدونکو ورځو شمير | 8 | بودجه او متخصصې بشري | رياست مقام | دري ګوني معاونیتونه او پوهنځي | ۱۴۰۳/۱/۱ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۳/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | 80,000 فـ | | مناسبتي ورځو نمانځلو اړوند لګښت | د ورځو په نمانځلو سره به د ټولني په پرمختګ ګې په موثر ډول ونډه اخیستل شوي وي | |



## دافغانستان اسلامي امارت — امارت اسلامی افغانستان
## دلوړو زده کړو وزارت — وزارت تحصیلات عالی
## مسلم د لوړو زده کړو مؤسسه



# مسلم د لوړو زده کړومؤسسې د ۱۴۰۴ لمریز کال عملیاتي پلان

| شمېره | اصلي هدف | عمده کړنې | شاخص | په کال کې د هدف اندازه او فیصدي | د اړتیا وړ سرچینې | د اجرا مسؤل | همکاره اداري | د فعالیت د ترسره کیدو د پیل نېټه | د فعالیت د ترسره کیدو د ختم نېټه | د سپارلو نېټه | د هدف اندازه / د پلان شوې فعالیت فیصدي په ربع کې | | | | د اړتیا وړ بودجه | | د بودیجې د ضرورت دلیل او د لګښتونو شرحه | متوقعه پایلې | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | | اوله ربعه | دوېمه ربعه | درېیمه ربعه | څلورمه ربعه | عادی (افغانی) | پرمختیایي (افغانی) | | | |
| 1 | د مؤسسې زیربنا پراختیا | د مؤسسې د ځمکې حقوقي طی مراحل او ماستر پلان جوړول | د حقوقي طی مرحلو او ماستر پلان د پرمختګ فیصدی | %100 | بودجه | ریاست مقام | مالي او اداري معاونیت | ۱۴۰۴/۱/۱ | ۱۴۰۴/۶/۲۹ | ۱۴۰۴/۶/۳۱ | %50 | %50 | | | | 5,000,000.0 -۹۰ | د مؤسسې د ځمکې حقوقي طی مراحل او ماستر پلان جوړولو اړوند لګښتونه | د مؤسسې د اخیستل شوې ځمکې حقوقي طی مراحل او ماستر پلان به چمتو شي او د هغه وروسته به د آبادولو جوګه شي. | |
| 2 | د عوایدو لوړول | د محصلینو کمیت ډېرول | د محصلینو کمیت ډېرولو د پرمختګ فیصدي | %6 | بودجه | ریاست مقام | دري ګونې معاونیتونه+ | ۱۴۰۴/۴/۱ | ۱۴۰۴/۱۲/۲۵ | ۱۴۰۴/۱۲/۲۹ | | %50 | | %50 | 100,000.0 -۹۰ | | د بازار موندنې اړوند لګښتونه | د محصلینو کمیت به د فعلي محصلینو په تناسب ٦ سلنه ډېر شي چې د هغه په مرسته به د پوهنتون مالي برخه پیاوړې شي. | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 3 | د عوایدو لوړول | د راډیویي نشراتو پراختیا | د راډیویي نشراتو د پرمختګ فیصدي | %5 | بودجه+متخصصين | ریاست مقام | علمي معاونیت + مالي او | ۱۴۰۴/۱/۱ | ۱۴۰۴/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۴/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | 150,000.0 ؋ | | د رادیویی نشراتو پراختیا په موخه لګښتونه | راډیو یې نشراتو پوښښ پراختیا سره به د مؤسسې د مالي برخه تقویه شي. | |
| 4 | د علم تولید، نوښت او څېړنو تقویه او پراختیا | د دوه عنوان درسي کتابونه خپرول | د نشر کیدونکو کتابونو د پرمختګ فیصدي | 100% | بودجه+متخصصي انساني | ریاست مقام | علمي معاونیت | ۱۴۰۴/۱/۱ | ۱۴۰۴/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۴/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | | 50,000.0 ؋ | د کتاب د نشر او چاپ لګښت | د کار بازار غوښتنو ته په کتو سره به درسي کتابونه خپاره او محصلینو لپاره به معیاري درسي مواد چمتو شوي وي. | |
| 5 | د کارمندانو د جذب زیاتوالی او ظرفیت لوړونه | اداري تشکیل پراختیا | پراخ کیدونکي تشکیل د پرمختګ فیصدي | %2 | بودجه | ریاست مقام | مالي او اداري معاونیت | ۱۴۰۴/۱/۱ | ۱۴۰۴/۱/۲۹ | ۱۴۰۴/۱/۳۰ | %100 | | | | 300,000.0؋ | | د نویو استحدام شویو کارمندانو معاشات | د اداري تشکیل په پراختیا سره به په چارو کې ښه والی رامنځته شي. | |
| 6 | له نهادونو سره د اړیکو ایجاد او پراختیا | د داخلي پوهنتونو سره تفاهم لیکونه لاسلیک کول | د لاسلیک کېدونکو تفاهم لیکونو شمېر | 4 | بودجه+متخصصي انساني | ریاست مقام | دري ګوني معاونیتونه | ۱۴۰۴/۱/۱ | ۱۴۰۴/۱۲/۲۸ | ۱۴۰۴/۱۲/۲۹ | %25 | %25 | %25 | %25 | 20,000.0 ؋ | | د تفاهم لیک د تشریفاتو لګښت | د یادو تفاهم لیکونو په لاسلیک کولو سره به د ګډو همکاریو زمینه برابره شي. | |
